# د رسنیو د کمیسیون جوړول او دټاکنو په دوران کې درسنیو د فعالیتونو کړنلار

دغه کړنلارد افغانستان د ټاکنو د نافذه قانون د ۶۰ او۶۶ مادې په (۲) بندکې د ورکړل شویو واکونو په پام کې نیولو سره د ټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا د ټاکنیزو رسنیو د کمیسیون د جوړولو په موخه تصویب شوې ده .

## اصطلاحګانې

**لومړۍ ماده:**

په دې کړنلار کې دغه اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

1. کمیسیون : د ټاکنو خپلواک کمیسیون چې د افغانستان داسا سي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ جوړ شوی دی.
2. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون: دغه کمیسیون د ټاکنو دقانون د ۶۱ مادې پربنسټ جوړ شوی دی .
3. د رسنیو کمیسیون : د رسنیو کمیسیون چې د ټاکنود قانونو د ۶۰مادې پربنسټ په لنډ مهاله توګه جوړ شوی دی
4. د ټاکنیزو مبارزو دوره : هغه موده ده چې د ټاکنیزو مبارزو د ترسره کولو په موخه د ټاکنو دخپلواک کمیسیونو له لوري ټاکل شوې ده او د ټاکنو د ترسره کولو له ورځې ۴۸ ساعته مخکې پای ته رسیږي.
5. د رسینو چلند اصول : د کمیسیون له خوا تصویب شوی چلند اصول .
6. سیاسي ګوند : د عدلیې په وزارت کې راجستر شوی سیاسي ګوند.
7. رسنۍ : په رسنیو کې تصویري ، غږیزې او چاپي جمعي اطلاعاتي وسایل شاملیږي.چې دعامه پوها وي په موخه کارول کیږي.

## دعملی سا حه

**دویمه ماده :**

دغه کړنلار په لاندینیو ټاکنو کې د رسنیو د کمیسیون ټولې کړنې اوفعالیتونو چارې تنظیموي :

1. جمهوري ریاست
2. ولسي جرګه
3. ولایتي شوراګانې او
4. او د ولسوالیو شوراګانې
5. دکلیو شورا ګانې
6. ښاروالانو
7. دښاروالی غونډې

## د رسنیو د کمیسیون جوړول اود هغې ترکیب

**دریمه ماده:**

1. کمیسیون د ټاکنو د پیل کیدو له ورځې لږترلږه ۶۰ ورځې مخکې د رسنیو کمیسیون جوړوي .

په هغه صورت کې چې دوه یا له دوو زیاتې ټاکنې په عین ورځ ترسره شي دوې ټولو ته د واحدې رسنۍ کمیسیون جوړیږي

۲- درسنیو کمیسیون له پنځه غړو څخه جوړ شوی دی د رسنیو د کمیسیون غړي په لاندې شرایطو باید برابر وي:

- دافغا نستان د تابعت لرل .
- د ژورنالیزم ، حقوقو او ادبیاتوپه څانګو کې دلوړلو زده کړو درلودل .

- په مطبو عاتواو فرهنګي چارو کې د مسلکي تجربې او لږ تر لږه د (۵ ) کلونودکاري تجربې لرل
- له مخکنی دندي څخه په لنډ مهاله توګه لرې کېدل .
- په سياسي ګوندونوپورې نه تړاو .( د دندي دتصدی پروخت)
- د ناپلتوب ساتل ، سمتي ، مذهبي ژبني تعصبات ،قومي اوډلو ټابلو ته لېوالتيا نه لرل.
- دمحکمې په حکم له سياسي او مدنی حقوقو څخه نه محرومېدل .
- دهېواد په رسمي ژبو باندې تسلط لرل .
- ملي ارزښتونوته وفاداري ا و دټاکنو خپلواک کمېسيون اصولو او مقرراتو ته پابندي.
- د ژورناليزم اخلاقي اصولوساتل اورعايتول .

۳- د رسنيو د کميسيون رييس د هغه له غړو څخه ټاکل کيږي. په هغه صورت کې چې غړي د خپل رييس په ټاکنه کې موافقې ته سره ونه رسيږي ، رييس د کميسيون له خوا ټاکل کيږي.
۴- د رسنيو کميسيون خپل داخلي کړنددونه برابر وي .
۵- د رسنيو کميسيون د چارو د ښه پرمخ وړلوپه موخه د کميسيون د دارالانشا له لارې داړتيا وړ اجراييوي کارکوونکي وګوماري .

## د رسينو د کميسيون دندېاومکلفيتونه :

**څلورمه ماده :**

۱- رسنۍ د ټاکنيزو مبارزوپه بهيرکې لاندې مسؤوليتونه پرغاړه لري
الف) د دداخلي کړندودونود مسودې لاربښود، پاليسيوتفاهم ليک ، چند اصول يا دښتونه او نورو حقوقي اسنادو ترتيب او برابرونه .
ب) د ټوليزو رسيوله لارې د کانديدادنود ټاکنيزو مبارزو خبر نامو د پوښښ لاندې راوستل.
ج ) د رسنيزو سر غړونوپه اړه درا رسيدلوشکايتونو څېړنه .
د ) دسر غړوونکي شخص معرفي کول دعدلي تعقيب لپاره اړوندو ارګانونوته.

ج) کميسيون ته د رپوټ او معلوماتو وړاندې کول .
هر) د داخلي کړندودونو په پام کې نيولو سره د ټولو تبليغاتي پروګرامونو اوجمعي اطلا عاتو وسايلو څارنه .
و) د ټاکنو اوکمېسيون دمسايلوپه اړه دډله ييزو رسنيو غير واقعبينانه خبر ليکونود خپرولو په وړاندې دلازمه قانوني تدبيرونو نيول.
ز) د کميسيون له خوا نورې ټاکل شوي دندې او مسؤوليتونه، او کمېسيون ته د کاري راپوټ او معلوماتو وړاندې کول.
۲- د رسنيود کميسيون په غونډو کې د شکايتونو او نوروارسيدلو موضوعګانو څېړل.
۳ ـ د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته ديوې رسنۍ د ابطال وړاندوينه کول.
۳- د رسنيو کميسيون خپلې دندې د ټاکنو د پايلو له تصديق وروسته تر ۴۵ورځو پورې پاې ته رسيږي .

## د عامه پوهاوي لپاره د رسنيو د ندی

**پنځمه ماده:**

۱- رسنۍ بايد هڅه وکړي چې دټاکنودقانوند۵۹ مادې په پام کې نيولو سره خلک د ټاکنو په بهيرپورې اړوند و موضوعګانو با ندې پوه کړي او هم دټاکنو له خپلواک کميسيون او د رسنيو له کميسيون سره همکاري وکړي ترڅو چې د هيواد زيات شمير اتباع لاندې موضوعا تو په اړه په بېطرفه توګه وپوهوي:
الف) د رأيو ورکولو ارزښت
ب) د کانديدانو تګلاره
ج) په ټاکنيزو مبارزو پورې اړوند ې اساسي موضوعګانې
د) په ټاکنو کې د ګډون په اړه معلومات
۲- دولتي رسنۍ دټولو کانديدانو د تبليغاتي پيغامونواوتګلارې د خپرلو په موخه په وړيا ډول او د کميسيون له خوا د برابر شوي مهال ويش سره سم دمرستي محدود شرايط برابروي.

## د ټاکنيزو مبارزو د دريدو( سکوت) دوره

**شپږمه ماده :**

د ټاکنيزو مبارزو دوره د ټاکنو له ورځې ۴۸ ساعته مخکې پای ته رسيږي .رسنۍ بايد د ټاکنيزو مبارزو د پړاو له پای ته رسيدو وروسته دسکوت په دوره کې :

الف) د هيڅ کانديد په ټاکنيزو مبارزو پورې اړوند فعاليتونه تر پوښښ لاند ې ونه نيسي ،

ب) له ټاکنو مخکې د نظر غوښتنو او نظر سنجيو پايلې يا د پا يلو لنډيز خپور نه کړي،

ج) له ټاکنو وروسته له نظر غوښتنو څخه ترلاسه شوي معلومات حدس اوګمان خپاره نه کړي .

## د ټاکنو د پايلو رپوټ ورکول

**اوومه ماده :**

ټوليزې رسنۍ بايد د کميسيون له خوا د ټاکنو اعلام شوې پايلې په روښانه او دقيق ډول خپرې کړي

## د رسنيو کميسيون ته شکايت

**اتمه ماده:**

۱- هر رأی ورکوونکی ، سياسي ګوند، کانديد يا استازې يې د رسنيو له دې کړنلارې يا چلند اصول څخه دسرغړونې په صورت کې کولی شي د رسنيو کمسيون ته رسمي کتبي شکايت وکړي.

۲- شکايت بايد په هغې ځانګړې فورمه کې چې د رسنيو د کميسيون له خوا برابريږي وليکي او دشاکي شخص له خوا دې لاسليک شي.

۳- شکايت بايد د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزې دفتر ، د کميسيون ولايتي دفترونو يا په کابل کې د رسنيو کميسيون ته وسپارل شي.

۴- شکايت بايد له هغې مودې څخه ۷۲ ساعت مخکې چې سرغړونه ليدل شوې ده ، رسماً وړاندې شي.

## رپوټ

**نهمه ماده:**

د رسنيو کميسيون د خپل کار له پای ته رسيدو وروسته د خپلو فعاليتونو بشپړ رپوټ وړاندې کړي.

## انفاذ) نافذيدل

**لسمه ماده:**

دغه کړنلار د تصويب له نيټې څخه نافذه او خپريږي.